دافغانستان اسلامي جمهوری دولت
د ټاکنوخپلواک کمیسیون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مستقل انتخابات

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# د رایو شمېرلو لایحه

## مبنی:

دا لایحه د ټاکنو قانون د (۷۹) مادې پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کمیسیون (له دې وروسته کمیسیون) تصویب شو.

## موخه:

دا لایحه د ټاکنو قانون (۵۷) مادې ته په پام د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په بهیر کې د رایو شمېرلو اړوند چارې تنظیموي.

## د رایو شمېرل

لومړی ماده:

(۱)د رایو ورکولو په مرکز کې د رای ورکولومحلونو په کچه د رایو شمېرل له مخکې ټاکل شوې چې د ټاکنو کمیسیون یې ترسره کوي.

## د رایو شمېرلو کارکوونکی

دویمه ماده:

(۱)د رایو شمېرلو کارکوونکي، همغه د رای ورکولو د محلونو کارکوونکي دي چې د رای ورکولو د پروسې په پای کې د رای ورکولو په محلونو کې رایې شمېري.

(۲)د رای ورکولو د محل ریس د کمیسیون دطرزالعملونو له مخې د رایو شمېرلو د محل او د رایو شمېرلو د پروسې د دقیق تطبیق مسوولیت لري.

## د رایو شمېرلو د محل ژورنال

دریمه ماده:

د رایو شمېرلو هر محل یو ژورنال لري. د رایو شمېرلو محل ژورنال په محل کې د ثبت شویو شکایتونو، په هغه هکله د نیول شویو تدابیرو او عمده پېښو په هکله معلومات لري، چې د محل ریس باید په منظم ډول د وخت په یادولو سره هغه په ژورنال کې ثبت کړي.

## د رایو شمېرلو په محلونو کې حضور

څلورمه ماده:

له لاندینیو کسانو مه واره بل هیڅوک د رایو شمېرلو په محلونو کې حضور نه شي لرلی.

۱: د رایو شمېرلو موظف کارکوونکي، د کمیسیون غړي او د کمیسیون د دارالانشا له لوري موظف شوي کارکوونکي.

۲: د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون استازي

۳: ملي او بین المللي څارونکي، کتونکي او د باورلیک لرونکو رسنیو استازي.

۴: د کمیسیون له لوري معرفي شوي څانګړي مېلمانه.

۵: امنیتي موظفین د محل د ریس په اجازه.

۶: د رای ورکولو مرکزونو پنځه سوه مترۍ پورې هیڅوک وسله نه شي وړلی، البته د کورنیو چارو وزارت په اجازه له امنیتي موظفینو پرته.

## استازی، کتونکی، د رسنیو استازی او څانګړی مېلمانه

پنځمه ماده:

(۱) استازي، کتونکي، د رسنیو استازي او څانګړي مېلمانه د رایو شمېرلو په محلونوکې د حضور پرمهال باید د رای محرمیت ته درناوی ولري او د رایو شمېرلو په پروسه کې د اخلال او ځنډ لامل نه شي.

(۲) د محل ریس کولی شي:

الف: د استازو، کتونکو او د رسنیو د استازو له لوري د اساسي قانون، ټاکنو قانون ، د کمیسیون له لوري د تولو تصویب شویو اسنادو او لایحو د نقض په صورت کې، د مرکز د مسوول له تاید وروسته هغوی ته د رایو شمېرلو محل د پرېښودلو هدایت وکړي.

ب: د کتونکو، رسنیو د استازو او څانګړو مېلمنو د زیات تراکم په صورت کې د شمېرلو په محل کې د هغوی د مساوي حضور په هکله لازم تدابیر ونیسي

(۳) استازو، کتونکو، د رسنیو استازو او څانګړو مېلمنو ته اسناد او ټاکنیز مواد نه شي ورکول کېدلی، مګر هغه چې د کمیسیون په طرزالعمل کې یې وړاندوینه شوې وي.

## د رای پاڼو مطابقت

شپږمه ماده:

(۱) د رایو شمېرلو محل کارکوونکي مکلف دي د رای پاڼو صندوق ټولو هغوحاضرو کسانو ته ورښکاره اود دوی په مخکې پرانیزي چې د دې لایحې په (۴) ماده کې یې یادونه شوې، د (۴)مادې له (۶)فقرې څخه په استثنا.

(۲) درایو شمېرلو د محل کارکوونکي تر ټولو دمخه د رای ورکولو صندوق ټولې رای پاڼې له اړوند طرزالعملونو سره سمې په لاندې ډول ډلبندي کوي:

الف: معتبره رای پاڼې: هغه پاڼې چې د کمیسیون طرزالعملونو ته په پام کارول شوي او د رای ورکوونکي موخه په کې پوره مشخصه ده.

ب: غیرمعتبره رای پاڼې: رای پاڼې په لاندې حالاتو کې غیر معتبره ګڼل کېږي:

- هغه رای پاڼې چې د رای ورکوونکي قصد په کې مشخص نه وي.
- هغه رای پاڼې چې د کمیسیون رسمي مهر نه لري.
- هغه رای پاڼې چې د رای ورکوونکي هویت مشخص کړي.
- هغه رای پاڼه چې اضافی لیکل یا لاسلیک په کې شوی وي.
- هغه رای پاڼې چې کمیسیون نه وي وېشلې او د وېشل شوې اصلي رای پاڼې شکل نه لري.
- په هغه صورت کې چې رای پاڼه داسې څیرې شوې وي چې نوماند ته د نښې کولو ځای په ګډون اړوند نوماند معلومات په بشپړ ډول له منځه تللي وي.

ج: سپینې رای پاڼې: هغه پاڼې چې له نښې پرته د رای ورکولو صندوق کې اچول شوې وي. د رای پاڼو د ډلبندۍ په هکله زیات تفصیلات په اړوند طرزالعمل کې تنظیمېږي.

## د رایو شمېرل

اومه ماده:

د محل کارکوونکي راتلونکو معیارونو ته په پام رایې شمېري:

الف: هغو کسانو ته د شمېرلو له پروسې څخه د څارنې او کتنې زمینه برابرول چې په (۴) ماده کې یې یادونه شوې، په محل کې د دغې مادې د (۵)فقرې څخه په استثنا.

## بې نظمیو ته رسېدل:

اتمه ماده:

(۱)د کمیسیون دارالانشا په اړوندو طرزالعملونو کې هغه تدابیر په پام کې نیسي، څو د پروسې شفافیت تامین او له وظیفوي واکونو څخه د ناوړه ګټه اخیستنې مخنیوی وشي.

(۲)د رایو شمېرلو د محلونو په کچه د بې نظمي او سرغړونې موارد په لومړي پړاو کې د محل ریس او د مرکز مسوول څېړي. که د رای ورکولو محل د ریس او یا د مرکز د مسوول د څېړنې پایلې د نوماندانو استازو ته د قناعت وړ نه وي، نو هغوی کولی شي د رای شمېرلو د پروسې په پای کې خپل شکایت د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته ولیکي.

## د رای شمېرلو پای

نهمه ماده:

(۱)د محل ریس د رایو شمېرلو د پروسې په پای کې ترلاسه شوې پایلې په اړونده فورمه کې لیکي او د رای شمېرلو محل کې د موظف شویو څارونکو

لاسلیک اخلي. د څارونکو د نه حضور په صورت کې موضوع په ژورنال کې ثبتوي او د رای ورکولو مرکز مدیر یې تایدوي.
(۲) د پایلې د فورمو څو کاپیانې او د هغو د وېش څرنګوالی د اړوند طرزالعمل مطابق تنظیموي.
(۳) د مرکز مسوول د رای ورکولو محلونو اړوند د رایو شمېرلو د فورمو اصلي نقل په اړوندو طرزالعملونو کې له مشخص شویو اسنادو سره یو ځای په حفاظتي کڅوړه کې اچوي، مهرولاک کوي یې او سیمه ییز ناظم ته یې د کمیسیون ولایتي دفتر ته د وړلو په موخه سپاري.

## د پایلو ملی مرکز ته د پایلو د فورمو انتقال

لسمه ماده:

د ټاکنو ولایتي امران هغه حفاظتي کڅوړې چې د شمېرلو د پایلو اړوند بېلابېلې فورمې په کې دي، د ټولولیکل شویو معلوماتو د کره والي په هکله د ډاډ له ترلاسه کولو او پر حفاظتي کڅوړو له لیکلو وروسته، هغه په کابل کې د پایلو ملي مرکز ته انتقالوي، د حفاظتي کڅوړو د ارزونې ډول او لېږد په جلا طرزالعمل کې تنظیمېږي.

## انفاذ:

یولسمه ماده:

دا لایحه له تصویب وروسته نافذه او خپرېږي.